DAILY
اراده
د افغان نشراتي مرکز ملي هيلواکه ورځپاڼه

سال ششم شماره ۶۶
شماره مسلسل ۹۳۳
سه‌شنبه ۲۵ دلو ۱۳۸۴هش
۱۵ محرم‌الحرام ۱۴۲۷ هـ ق
14 February, 2006

PROPERTY OF ACKU
AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C
سال تاسیس ۱۳۷۹ هش

ایجاد کمیسیون های کاری در ولسی جرگه



پس از چندین روز اختلاف نظر و گفتگو در باره ساختار ولسی جرگه توانستند ۱۳ کمیسیون کاری را ایجاد نمایند وپنج کمیسیون دیگر فردا ایجاد خواهد شد گفته شده است که کمیسیون ها بر اساس تجربه و تخصص تصویب شده اند اما شماری از نمایندگان میگویند که در تصویب کمیسیون ها مسایل سمتی و قومی نیز در نظر گرفته شده است. ص۴

تنقیص شویو پخوانیو افسرانو ته کورونه ورکول کیږي.

دملي دفاع وزارت ویاند جنرال ظاهر عظیمي پرون خبریالانو ته وویل چې دملي دفاع وزارت پوري اړوند ۲۵۰۰۰ پخوانیو افسرانو ته چې دغه وزارت تنقیص کړي دي یوه یوه نمره کور دغه وزارت له معاشونو سره وتې وه او دخپلو حقوقو غوښتنې به یې تل دلاریونونو یوځاي ورکوي. دغه افسران په ۱۳۸۱ کال کې تنقیص شوي او ملي دفاع وزارت ورته تردي مهال معاشونه ندي ورکړي چې ددغه کار چاره دافسرانو له لوري دلاریونونو راویستلو ته له لارې کولې.

جابجایی نیروهای بریتانیا در ولایت هلمند

یکصدو پنجاه سرباز نیروی دریایی بریتانیا با ۴۲ کماندوی آن کشور در حال آمدن به ولایت هلمند هستند گفته میشود این نخستین دسته یی از نیروهای دریایی انگلیسی است که بعد از اعلامیه ۲۶ جنوری امسال مبنی بربرجا شدن ۳۳۰۰ نیروی بریتانیای در جنوب کشور جابجا میگردند یکی از وظایف عمده را که این نیروها بعهده خواهند داشت مقابله با تهدید های حملات انتحاری است که همچنان گفته شده است که این قوت ها وظیفه عملیات بر علیه کشت و قاچاق کوکنار را نیز در ولایت های که بیشترین کشت این ماده در آنجا صورت می گیرد را نیز در پهلوی نیروهای افغان بردوش خواهند داشت قرار است این نیروها با ایجاد یک پایگاه نظامی در ولایت هلمند علماً بکار آغاز نمایند. ص۴

په کنړ کې دري توغندي نیول شوي

په کنړ کې چارواکو د افغانستان او پاکستان پر پوله دري توغندي چې ددوی په وینا توغولو ته چمتو وو لاس ته راوړي تیره ورځ هم د پولیسو ساتونکو عسکرو یو تن د چاودیدنکو توکو سره نیولي و، له بلې خوا د کنړ چارواکي وایي چې ۱۵ پاکستان وګړي یې د ځنګلونو د وهلو او هغه لور ته یې د قاچاق په تور نیولي دي. ۴مخ

د ولسي جرګې یوه غړې له بریده بچ شوه

په ولسي جرګه کې د پروان ولایت د خلکو استازی میرمن سامعه سادات پرون مازدیګر د پروان ولایت د توتمدرې په سیمه کې د یو ناکام وسله وال برید څخه بچ شوه. د ناپیژانده وسله والو په برید کې د ولسي جرګې د غړې یو ساتونکی ټپي شوی او موټر ته یې هم زیان رسیدلی دی. دغه میرمني پرون بینوا ته وویل چې په پروان کې لاهم داسې کسان شته چې د امینت او سولې پر وړاندې خنډونه پیدا کوي. دې له دولتي چارواکو څخه په ټینګه غوښتنه وکړه چې برید کونکي دې ژر ترژره د قانون منګولو ته وسپاري.

سرمقاله

تخریبي چاوني او خوړې شوې اندیښنې

زموږ په ټولنه کې بیکاري غریبي. اقتصادي ستونزې او راز راز روحي فشارونه له یوې خوا او د تخریبي عناصرو له خوا ورځ په ورځ زیاتیدونکې تخریبي فعالیتونه او چاودنې له بلې خوا د هیوادوالو اندیښنې زیاتې کړي دي. د ژوندانه په ټولو خواوو کې د هر اړخیزه سوکالیو او نیکمرغیو د رامنځته کولو لپاره د منظمو علمي او عملي پروګرامونو د رامنځته کولو او د تخریبي عناصرو د مخنیوي په برخه کې له تیریدنې پرته د قانون د تطبیق لپاره زیاتې او پر له پسې اړتیاوې لیدل کیږي چې له بد مرغه د څه د پاسه څلورو کلونو په موده کې تر اوسه پورې له زیاتو بهرنیو مرستو له شته والی سره سره نه د خلکو د ژوندانه برخه کې بنه والی او بوختیا راغله او نه خو د کورنیو او بهرنیو خواکونو په شته والی سره سره د تخریبي عناصرو د تخریب مخه ونیول شوه.

څومره چې بیکاري. لوږه او اقتصادي ستونزې زیاتیږي څومره چې د خلکو او اولسونو هیلې د بري له درشل څخه لیرې کیږي څومره چې هر کال د خصوصي تولیدي سکتورنو له نشتوالی سره سره له هر وزارت څخه د مسلکي اشخاصو د تنقیص زیاتوالی رامنځته او په ارتباطاتو تاکنې یې ځای نیسي او څومره چې د افغاني او دالري معاشونو تر منځ واټن د ژوندانه توازن له منځه وړي.

په هماغه اندازه له دولت سره د خلکو همکاري کمه او د تخریبي عناصرو پله درنیږي چې دغه حرکت په هیواد کې د سراسري سولې په برخه کې د دولت او بهرنیو خواکونو شته والی او فعالیتونه له سوال او پوښتنې سره مخامخ کوي.

ځکه خو د روانو تخریبي فعالیتونو د مخنیوي په برخه کې یوه اغیزمنه لاره هم د دولت غیږې ته د خلکو رانږدې کول دي چې د کاري بوختیاوو او د ژوندانه په برخه کې د سوکالیو د رامنځته کولو او د معاشونو د امتیازاتو د ستر توپیر د له منځه وړلو له لارې صورت نیسي او ورسره په تخریبي عناصرو باندې د قانون په کلکه تطبیق دی چې د نورو لپاره د عبرت او لاس اخیستلو سبب شي. څومره چې د خلکو بوختیا او دژوندانه سوکالی رامنځته کیږي په هماغه اندازه د تخریبي عناصرو په وړاندې په اولسونو کې ویره رامنځته کیدای شي او تخریبي عناصر خپله تکیه له لاسه ورکوي خو دریغه چې زموږ حرکت په دواړو لوریو کې نیمګړی او ناهیلی دی.

په بغلان کې چاوني

پرون له غرمې مخکې د مرکزي بغلان په دولسم سرک کې یوه چاودنه وشوه ددغې چاودنې عاملینو د لوی لارې پولیس په ننبه کړي وو شمال او ختیځ د لوړې لارې د دوهمې لوا قوماندان جنرال خلیل وایي چې په دغه پیښه کې دوه کسه تپیان شوي او د پیښې په هکله څیړنې روانې دي. ۴مخ

باشنده گان ناحیه اول شکایت دارند

باشنده گان ناحیه اول شهر کابل از نبود برق و مراعات نشدن حفظ الصحه محیطی درین ناحیه شکایت دارند آنان میگویند که موجودیت سرای ها درین محل بر مشکلات شان افزوده است در همین حال شهردار کابل میگوید که ماستر پلان این منطقه برای وزارت شهر سازی ومسکن تسلیم داده شده است اما آنان درین مورد هیچ اقدام نکرده اند. ص۴

ممانعت از ورود وسایط بدون مجوز قانونی

هیچ وسیله نقلیه بدون داشتن مجوز قانونی نمیتواند به افغانستان وارد شود این مطلب را معین پلان گذاری وزارت ترانسپورت ابراز نمود در حاضر ۳۰۰ عراده وسیله نقلیه در لندی کوتل پشاور در حال ورود به افغانستان اند معین پلان گذاری وزارت ترانسپورت محمد رمضان شفق با تائید این خبر میگوید بعد از گشوده شدن شاهراه کابل _ تورخم همه وسایط میتوانند در صورت داشتن مجوز قانونی از قونسلگری افغانستان در پشاور از مرز عبور کند و محموله های شان را به افغانستان انتقال دهند.

دوه مړه او شپږ ټپیان

د افغان د ملي اردو په سر تیرو باندې پرون مازدیګر د نکنړ او جلال آباد د لویې لارې په اوږدو کې د ځوکې په ولسوالۍ کې د ریموت کنټرول یو بمي چاودنه تر سره شوه چې له کبله یې د ملي اردو یو تن سرتیر وژل شوی او پنځه تنه نور ټپیان شوي دي.

او د یو بل خپره له مخې د دوشنبې په ورځ د کابل بنار د دوغ آباد په سیمه کې د لویې لارې پر سره په کراچۍ کې یو وړاندې هم د کنړ ولایت د وټه پور او مانوګي په ولسوالۍ کې د ملي اردو شپږ تنه سرتیري وژل شوي او اوه تنه نور ټپیان شوي دي.

د ځای پر ځای شوی بمب هغه مهال و چاودید کله چې د آیساف او ملي اردو خواکونو په نومورې لاره تیریدل د شپږمې امنیتي حوزې مسوولینو وویل چې په پیښه کې د ملي اردو یوسرتیري ټپي شوی خو بل چاته کوم زیان نه دی اوښتی.

له ستونزو سره کول د حل لاره نشي رامنځته کولای ص۲
فیچی تنقیصات را باید با دقت و سنجش در کلوی ادارات گذاشت ص۲
اول مذهب بیا کلتور ص۲

مونږ تل دا انتقاد کوو چې بهرنیانو د خپلو اهدافو په خاطر افغانان په خپلو کې په جنګ اچولی دی او دخپلواهدافو د سرته رسولو لپاره یې زمینه برابره کړی ده لدی خبری څخه خو انکار نشو کولای دا سمه ده خو دی خبری ته هیچا پام اړولی نه دی چې په جنګ او جګړو تر هڅوونکو زیات هغه څوک ملامت دی چې عملاً د توپک په ماشی ګوتی کشوی بم حبسوی او د هیواد د ګټو پر خلاف عملاً اقدام کوی او دغه وروستی کار پخپله افغانانو کړی دی. مونږ په تیرو جګړو کې هم ولیدل چې د جګړو دواړو لوریو همدا کار کړی دی.په تیرو اوبو پسی د بیلونو کړنګول هم فکر کوو چې څه ګټه نشي تر لاسه کولای .اوس خوزمونږ وطن وران شوی دی اوس یې د جوړولو خبره زیاته ضروری ده او مونږ هم ورته تش لاس یو.

خو دجوړولو په دغه حرکت کې بهرنی معلوم الحاله کړی بیا د پرون په څیر غواړی چې د افغانانو په لاس خپل اهداف سر ته ورسوی.

د ډیرو په فکر کې به دا راشی چې دا اهداف څه شی دی چې سرته نه رسیږی او افغانانو په خپل منځ کې سره تباه کړل.

که لږ فکر وکړو او لږ بازارونو ته ووځواو د پلورلو او پیرودنی بهیر وګورو دا به راته څرګنده شی چې دا ټول توکی له بهر څخه را روان دی او له ځینو موسمی تر کاریو پرته زمونږ خپل په کې څه نشته او که وی هغه په کې په نشت حساب کولای شو.

بهرنی اهداف دادی چې زمونږ هیواد دتعلیم له پلوه وروسته پاتی شی مونږ د تولیدی پروژو اوکارخانو ځینی بی برخی اوسو اردو او پولیس اوهوایی ځواک ونه لرو د ځان اوملک دفاع ونشو کړای دارتیا وړ اجناسو لپاره نورو ته احتیاج اوسو اوافغانستان دنورو توکو لپاره ښه وارداتی بازار اوسی موږ له کانونو څخه خپله استفاده ونه شو کړای او په غلا یی رانه نور یوسی.

قانون موتر پښو لاندی وی سرحدونه موخلاص وی اوهر څوک له پاسپورت او ویزی پرته را روان وی.او خپل ناروغان د تداوی لپاره ګاونډیواو بهرنیو هیوادونو ته ولیږو او کوزه په لاس ترې وګرزو دا او داسی نوری خبری اواهداف.

او مونږ افغانان چې جګړو وسوځولو او پدی هم پوهیږو اوتل دا خبره وی اوهر څوک له پاسپورت او ویزی پرته را روان وی.او خپل ناروغان د تداوی لپاره ګاونډیواو بهرنیو هیوادونو ته ولیږو او کوزه په لاس ترې وګرزو دا او داسی نوری خبری اواهداف.

او مونږ افغانان چې جګړو وسوځولو او پدی هم پوهیږو اوتل دا خبره کوو چې دا بهرنی اهداف دی لا هم په خپل تخریب کې روان یو.

تخریبی عناصر څوک دی؟

د همدی خوار وطن خلک دی تروریستانو او القاعده ورسره د خپلو اهدافو په خاطر ځانونه شریک کړی دی ایا دوی پدی بهرنیو اهدافو نه پوهیږی ؟

پرون هم افغان وطن افغانانو وران کړی دی نن یې هم افغانان وی اوهر څوک له پاسپورت او ویزی پرته را روان وی.او خپل ناروغان د تداوی لپاره ګاونډیواو بهرنیو هیوادونو ته ولیږو او کوزه په لاس ترې وګرزو دا او داسی نوری خبری اواهداف.

او مونږ افغانان چې جګړو وسوځولو او پدی هم پوهیږو اوتل دا خبره وورانوی خو دا هغه افغانان دی چې د اهدافو په لرونکو کړیو خرڅ شوی دی د دوی ملی احساس وژل شوی دی دوی سره د خپل وطن او بچیانو غم نشته. که چیری همدغه حالت ته نظر وکړو د بهرنیو اهداف او د خپلو تخریب وګورو د حل لاره یې څه کیدای شی آیا د حل لاره یې داده چې تل له معلوم الحاله کړیو سره وتکوو اوکه خپله یې کلکه دفاع وکړو. فکر کوو یوازی د سر ټکول او په نورو پرې ورانچول د ستونزو حل نشی رامنځته کولای مونږ یوازی هغه وخت لدی ستونزو خلاصیدلی شو چې په خپل هیواد کې د تخریبی عناصرو د جرمونو د اثبات په صورت سمدلاسه خپل قانون پری عملی کړو په هیڅ یوه هیواد کې دهیواد د ګټو ته دخاینو اوتخریبی عناصرو په وراندی تیریدنه نه کیږی سمدلاسه یې په درنو سزاګانو رسوی خو وای زمونږ په هیواد کې !!

عملاً ونیول شی په خپلو جرمونو اعتراف وکړی خو په میاشتو میاشتو یې د سزا د اعلان درک نه وی او په برخلیک یې څوک نه خبریږی چې دا دومره نیول شوی مجرمین څه شول او چیرته لاړل.

له ستونزو سرټکول د حل لاره نشي رامنځته کولای

گروندګر څه غواړی!

عبدالطیف "مدت یار"

نن سبا چې په هیواد کې د مخدره موادو پر ضد مبارزه پیل شوی او بهرنی هیوادونه هم په دی زور اچوی چې په افغانستان کې دکوکنارو پر ضد پابندی ولګیږی نو ګروند ګرو ته ددی هیله ضروری پیدا کیږی چې د دولت له خوا ورته څه نا څه بدیل ورکړی شی تر څو دوی په هوساینی سره ژوند وکړی.

د بدیل معامله د زیات وخت نه را په دیخوا د دوی په مغزونو کې غزونی کړی خو دا چې څه نه دی ورکړ شوی نو ناامیده شوی هم دی.

په تیرو وختونو کې چې دولت به په پر دوی باندی ددی بندیز لګولو چې کوکنار مه کری او دولت به د کرنی په اړه ستاسی ستونزو کمی کړی او یا به موغوښتنو ته ځوابونه ووایی: خو له هغه وخت نه تر اوسه پوری چې ښایسته زیاته موده تیره شوی ده د دوی نو لس لا هم نه دی ښل شوی او په دوه لاری کې ولاړ دی.

که چیری دولت په ربښتیا سره غواړی چې د کوکنارو کرونده په تپه ودروی دوی ته دی په اصلاح شو وتخمونو کیمیاوی سری سربیره د ماشینی کرنی سامان اوالات په لاس ورکړی تر څو دوی و کولای شی په لږی ستړیا سره ډیری ګټی تر لاسه کړی او خپلو غوښتونو ته ورباندی ځوابونه ووایی.

مونږ په اوس وخت کې د هیواد کروند ګر او دهقانان د کوکنارو په کرنه کې څکه ګرم نه بولو چې له یوی خوا د دولت نه ناهیلی شوی اوله بلی خوا دقاچاقبرانو غوښتنو دوی له کاره ایستلی دی دا څکه چې د کوکنارو کرنه سل په سلو کې دقاچاقبرانو له پاره د ګټمی زمینه برابروی او دهقانانو ته په خوږو کې مالګه هم نه رسیږی نو ښه او پر ځای خبره داده چې ددهقانانو ژوند ته پاملرنه وشی اود دوی ژوند پر پښو ودریږی.

نن سبا چې د لندن پریکړی په عمل کې پلی کیږی او له کروند ګرو څخه غوښتل کیږی چې د لندن دکنفرانس سره سم عمل وکړی نو بیا خو ددوی د ژوندانه خیالات ساتل هم په کار دی مونږ دا منو چې د کوکنارو په زیات ترویج سره باندینی مارکیټونه هم ګټمی تر لاسه کوی خو تاوان یې افغانانو ته ډیر زیات دی دا څکه کومی ښځی چې د اپینو شیره را ټولوی په هماغو لاسونو باندی یې خپلو کوچنیانو ته یې هم ورکوی چې دغه راز واړه ماشومان د کوچنیوالی د وخت نه په اپینو باندی روږدی کیږی او داپینو د روږ دو کسانو په شمیر کې زیاتوالی راپیدا کیږی. په اوس وخت کې چې زمونږ ځوانه طبقه بیکاری پسی راخیستی دی نو تریاکو ته یې مخه کړی او خپل ژوند یې په لوی لاس تباه کړی دی همدغه وجه ده چې نن ورځ د پوډریانو شمیرنه د بل هر وخت نه ډیره زیاته ده او د زیاتو کورنیو اقتصاد ته یې تاوان رسولی دی په پودرویو اخته سړی دی ته اړ کیږی چې خپله کورنی له هیره وباسی او د غلا او شوکی له لاری څخه خپل نشه یې توکی ترګوتو کړی. ددی له امله چې په دی برخه کې د فساد مخه نیول شوی وی په اول قدم کې دی دهقانانو ته بدیل ورکړشی چې د کوکنارو د کرلو نه ډډه وکړی او په خپلو ځمکو کې هسی نباتاتو ته ځای ورکړی چې حرام نه وی او د حلالی لاری نه د ځان او وطنوالو ارتیاوی پوره کاندی. ددی په څنګ کې دی په پودرو اخته کسان روغتونو ته واستول شی چې د څه وخت له پاره تر علاج او درملنی لاندی ونیول شوی اود پودرو د نیشی نه د تل له پاره په امان پاتی شی. که چیری زمونږ پورتنی څو کرښی په نظر کې نیول کیږی او لاری چاری ورته برابریږی نو په یقین سره به د خاشخاشو په کرنه کې هم کمی راشي او د بهرنیانو د ګوت نیونی به هم مصؤن پاتی وو. خو په دی شرط چې د خبرو او عمل تر منځ واټن نه وی پیدا شوی او هره چاره په خپل وخت او زمان سره سرته سیدلی وی.

قیچی تنقیصات را باید با دقت و سنجش در گلوی ادارات گذاشت

ضیاء "وفوی"

ادارات دولتی نظر به اهداف و یا مراجعین دارای تشکیلات خاصی بوده و اساسا بخاطر رسیدن به هدف یا تحقق پلان ، تشکیل ، پرسونل ، وسایل و منابع و ریاست های حتمی و ضروری است که بدون ریاست های فوق ایفای وظیفه ناممکن خواهد بود.

در کشور ما در وقت احمدشاه بابا ، قوانین مالیه وعسکری برای اولین بار در زمینه حقوقی کشور وضع و تطبیق گردید و در پهلوی ارگان های موجود انوقت تشکیلاتی در ارتباط به تنظیم و جمع اوری مالیات و عسکری عرض وجود نمود ، در مراحل بعدی در وقت شاه زمان تشکیلات نسبتاً بهتر نظر به گذشته و بالاخره در وقت سلطنت ظاهر خان و صدارت داود خان، تفکیک قوا به شکل ابتدایی اما در دهه دموکراسی شکل بندی بهتری یافت که قوای ثلاثه نظر به ضرورت و ایجابات وقت دارای تشکیلات خاص خود بودند.

ملت با پرداخت مالیات هزینه مصارف دولت را تامین میکرد. اما در اواخر سلطنت ، بیکاری روز تا روز حاد گردید و کانکور زده ها پرابلمی بود برای حاکمان قدرت.

با کودتای ثور عطف توجه به ان صورت گرفت تا به خاطر جلب توجه اجتماع و اینکه فابریکه ها یکی بعد دیگر به رکود مواجه و جامعه به سوی یک بحران بیکاری میرفت. به خاطر تضعیف بحران استخدام بیشتر در ادارات دولت صورت گیرد جلب و جذب بیش از حد در تشکیل دولت بعنوان مامور یا اجیر باعث ان شد تا در تشکیل تورم بوجود اید و بر خلاف پرنسیپ های منجمنت ، کار های مشابه به واحد های بیشتر توزیع عدم تعادل به میان امده در مراحل بعدی هم ادامه یافت.

با به میان امدن اداره موقت در کشور طی چهار سال اخیر بادر نظر داشت اصول اداره، در اکثر وزارت خانه ها دوباره تشکیلات، اصلاح گردیده و نظر به ضرورت ها عیار شد.

طور مثال تشکیل ریاست ها و اداراتیکه در وزارت اطلاعات فرهنگ وتوریزم موجود است جوابدهنده وظایف کنونی ان میباشد اما قرار مسموع باز هم تشکیلات دولت بایستی در سال ۱۳۸۵ ده فیصد تقلیل یابد ، این تنقیصات پی هم و حکمی باعث ان میشود تا یک سلسله وظایف و خدمات یکجا با حذف تشکیلات از بین برود و چنانچه در تشکیل وزارت اطلاعات ، فرهنگ و توریزم کاستی صورت گیرد و وزارت مالیه اصرار ورزد تا به هر شکل تقلیل به عمل اید به یقین که ده فیصد تقلیل در تشکیل ده فیصد کاهش ایفای خدمات را به میان خواهد اورد و چون اکثراً ادارات این وزارت مسلکی و تخصصی در زمینه های اطلاعاتی فرهنگی و توریستی اند این کاهش نباید عملی گردد و وزارت مالیه باید با دقت و سنجش کامل با در نظر داشت لایحه وظایف عمل نماید نه انکه حکم نماید ، این وزارت یا ان وزارت حتما وحتماً تنقیصات راعملی سازند در حالیکه بر عکس نظر به مساعد شدن اوضاع و شرایط و خواست ها و نیازها وظایف مهمتر و بیشتری در مقابل این وزارت قرار گرفته که بایستی پرسونل ان بیشتر گردد نه کمتر. امیدواریم جناب وزیر مالیه نظر به اهمیت خدمات و وظایف و به خاطر حسن اجرای ان قیچی تنقیصات را از گلوی وزارت اطلاعات فرهنگ و توریزم برداشته عرصه های نشراتی فرهنگی و توریستی را که خیلی جالب و مورد نیاز است تحت فشار قرار ندهد

متصدی : نرگس

زن راء مادر راء ستایش کنیم!

اول مذهب بیا کلتور

دمخه تر دی چې د ښځو د تریخ ژوندانه په هکله و غږیږم په یوه کیسه به یې پیل وکړم ولیده چې یوه زورواکي دخپلې ولسوالی د یوه بهوزله سپین ږیري سړي د شهزاګی غوندې لور د خپل یوې علمه او بد اخلاقه زوې ته غوښته ، او کله چې هغه خوار غریب انکار و وکړ نو په ډول ډول تهدیدونو یې ورته لاس پورې کړ او اخر هغه مظلوم خپل ټول شته پرېښودو ته مجبور شو او له خپل وطن څخه ډېر لرې یې د پردي وطن اوسېدل غوره وبلل دغه بوډا ویل چې اخر څنګه خپله ښایسته لور دهغې د اجازې نه بغیر یوې بې تعلیمه او بد نام سړي ته ، هغه هم په زور ورکړم

ما دوطن داسې خویندې هم لیدلې چې د خواری او مشقت داسې ورځې شپې یې سبا کولې چې هغوی په دې نه پوهیدې چې ایا دوی سړو ته واده شوي دي او که کارونو ته ، دې ښځو به ټول ورځ په پټې کې د خپل خاوند سره له سحره تر ماښامه مرسته کوله بیا یې د ماسخوتن ډوډۍ تیاروله د هغه نه وروسته به ستړي ستومان د مېړه او د بچو لپاره د خوب ځای تیارول ، او غم به هله وو چې ټول کور به ویده و او دا بېچاره ګاڼي به خپل ماشوم بچي ته په شیدو ورکولو اویا هغه ته به للوللو ویلو شپه سبا کوله او سبا سحر وختي به دپرون په شان دخواری نه ډکه ورځ شروع او همدغه شان به ختمه شوه .

عجیبه تماشه خو به هله وه چې کله به یوې ښځې مسلسل ددوونه زیات لورګاڼي راوړې نو بیا د سپېرې او نورو مختلفو نومونو په نوم یادېده حتی له هغې ځخه به نفرت کېده د لوریا ځوی پیدا کولو خبره راته دې بوډا سړي وخندل اوویې ویل چې بچیه ! ته خو ډېر ښه سړی یې ولې دا وطن د پښتو دی او دلته څوک داسې خبرې نه کوي .

ما ورته په ځواب کې یوه کیسه وکړه چې بابا دیو سړي دوارې وګردو کار پریښودی و ، نو ټولو زامنو یې هغه ته د یوې ګردې ورکولو څخه انکار وکړ دا ځکه چې ډاکټر هغه ته ویلې و چې که چېرته هغه د چا څخه یوه ګرده واخلي ، نو کېدای شي هغه د مرګ څخه بچ پاتې شي اخر هغې یوې خوارکي لور پلار ته د یوی ګردی ورکولو دلاسه مړه شوه خو ولې د پلار له پاره د هغې قربانې زمور د تاریخ یوه نه هیریدونکې پاڼه جوړه کړه .

بابا ددې کیسې کولو نه زما مقصد دا و چې خدای مکړه که چېرته سبا په هغه داسې کوم حالت را شي ، نو یوازې دغه لورګانې به وي چې دومره لویې قربانۍ ته به تیاري وي ولې په بدل کې مور وینو چې مور ورسره څه کوو دلته زما مطلب دا نه دی چې یانې ضرور دې ښځې همېشه دا شان قربانې ورکوي او مور دې یوازې تماشه وکړو په هر حال زما ددې کیسې په اوریدلو سره بوډا یو ځل بیا په خندا شو او راته یې وویل چې بچیه !

زمونږ په دې وطن کې دا رواج نشته بس نور نو زه هم پو شوم او خاموشه له هغه ځای ځخه پاځیدم .

زه پدې حیران یم چې اول خو مور ټول پښتانه دا دعوه کوو چې پښتانه واحد قوم دی چې دلته هیڅ غیر مسلمان نشته او بله دا چې مور دا سلام په ټولو اصولو مکمل پابند یو زه پخپله هم پدې عقیده یم ولې زه هله ډېر زیات حیران شم چې څنګه ځینې خلک دا وایي چې دا زمور په پښتو کې نشته چې ښځې ته په جایداد کې برخه ورکړو ، یا تر یې نه کم ترکمه د خپل ژوند د ملګري د خوښولو پوښتنه وشي چې داد هغې یو مسلم او مشروع حق دی دا خو لا ډېرې غټې خبرې دي نور بې حسابه کارونه شته چې هغو ته مور د رواج یا د کلتور بڼه ورکوو او بیا وایو چې دا زمور په کلتور کې نشته چې زمور مذهب به د هغه اجازه ورکړي وي .

نو دلته مور باید یا مذهب غوره کړو او یا کلتور ، زه دا وایم او په دې پوهېږم هم چې زمور کلتور ښه روښانه کلتور دی او پدې کې هم ډېرې داسې خبرې نشته کوم چې دا خلک د ځان ځخه جوړوي ، خوبیا هم که دځینې خلکو په خوله یو کار زمور په رواجونو کې نه وي او مذهب کې وي ، نو بیا نو مور مجبوره یو چې د مذهب لاره خپله کړو ولې حقیقت داسې نه دي مور هسې خپل رواجونه او کلتور یا دین بدنامو ځکه زمور کلتور هیڅ کله هم د مذهب خلاف اصول نه لري ، نو راځئ وروڼو چې نور مذهب یا خپل کلتور بدنام نه کړو ، ځکه زمور کلتور هیڅ کله هم د مذهب خلاف اصول نه لري ، زما د محدودې تجربې او مطالعې نه ماته دا خبره په ډاګه شوې ده چې که چېرته مور تعصب یوې خواته کېږدو او حقیقت ته نظر وکړو ، نو ښکاره به شي چې زمور ټولنیزې ستونزې یانې د ښمنې ، ضدونه ، کورنۍ اختلافات او نور ډېر د ښځو سره د همدې ظلمونو په وجه رامنځ ته کېږي .

په اخر کې زما یوازې او یوازې دا هدف دی چې مور د خپلو خویندو په شرعي حقوقو نو ستر ګې پټې نه کړو او دوی ته هغه حقوق ورکړو کوم چې د اسلام مقدس دین له نن څخه ۱۴ سوه کاله وړاندې ورکړي وو او نن هم هغه د اولې ورځې په شان په شرعي او قانوني حیثیت لري .

او په اخر کې د هغه چا خبره چې ټول ګناهونه او ظلمونه بدکاري هغه مهال ختمېږي کله چې مور دا سوچ وکړو چې که چېرته دا ظلم ، بدکاري یا ګناه زما خلاف یا مقابل کې کېږي نو زما د زړه حال او عکس العمل به څه وي.

خیات الله سالارزی

د کورنۍ ژوند ستوترې څنګه رامنځته کیږي؟

په افغاني ټولنه کې اوس هم خورا زیاتې نیمګړتیاوې شته ، چې حلېدل غواړي د ټولنیزو جوړښتونو سالمه وده پخه او اوس هم په دې ټولنه کې د کورنۍ ژوند په برخه کې ګڼ کړکېچونه او لوړې ژورې شته ،

چې زیات مهال د مېرمنو ژوند ګوابښي په دې ټولنه کې اکثره پلرونه چې خپلې لونې د چا په نوم کوي ، د هغې رضایت نه غواړي ، داسې پلرونه هم شته چې ځانونو په پوهو خلکو کې بولي ، خو کله چې یې څوک د لور په مرکه ورځي او دې ورسره هوکړه کوي ، نو

د خپلو لونو رضایت نه غواړي ، لږ تر لږه د هغو یا نه ځواب هم نه تړي غواړي ، بلکې یوازې له خپلو مېرمنو سره سلا مشوره کوي زیاتره مهال چې دوی خپلې لونې ودوي ، نو ګومان کوي چې له اوږو څخه یې یو دروند پټې لیرې شو ، حال دا چې زیاتره نجونې له سوکاله ژوند څخه بې برخې وي ، ځکه چې هغې هلک نه دی پېژندلی ، د هغه له اخلاقو ، عادتونو ، ځانګړتیاوو او نورو خصوصیاتو سره بلدتیا نه لري ، دا ډول اکثریت نجونو د واده تړون پوري هلک نه وي لیدلی ، چې روغ دی که ناروغ؟ قواره یې څنګه ده او داسې نور ، حال دا چې د اسلام دین وایي نجلۍ او هلک باید تر واده مخکې سره وګوري ، خو له بده مرغه چې په دې ټولنه کې دا اصل تر پښو لاندې کېږي ، ځکه چې په دې ټولنه کې ځینې داسې دودونه لا ژوندي دي ، چې زیات مهال د ځوانانو ژوند خرابوي او له اسلامي اصولو سره برابري نه لري هغه نجونې چې له پوښتنې او رضایت پرته ورکول شوي ، له زیاترو سره یې یوازې اروایي ځور مل وي او که هر ډول سخته پرې راځي ، ګالي یې هغه په خپل ژوند کې بل داسې څوک نه لري چې خپل درد ورسره شریک کړي ، هغه کس چې دا یې د خپل ژوند ملګرې ګڼي ، هغه هم تونډ او تریخ چلند ورسره کوي ، ان چې فزیکي ځور ورکوي ، وهي یې ، ټکوي یې او ښکنځل ورته کوي ، چې د کورنۍ ژوند فضا له همدې ځایه خړپړېږي ، ځکه کورنی ژوند ډېر حساس او باریک وي ، چې ډېرې وړې خبرې او وړې ستونزې ستړې ربړې او خندونه جوړولای شي ، داسې نه ده چې اکثره مهال یوازې او یوازې نارینه ظلم کوي ، ځینې مېرمنې داسې دي ، چې دوی په خپله ستونزې جوړوي ، مادي خواهشات لري ، بېځایه سیالي غواړي او داسې نور زمور په ټولنه کې ګڼ نارینه شته چې په کور کې کورنۍ ستونزې لري ، خو دوی ظاهراً په کور کې ډېره هڅه کوي چې د کورنۍ فضا خوشحاله وساتي ، حال دا چې په زړونو کې ډېر ځورېږي اساسي خبره دا ده چې په کورنۍ ژوند کې مېرمن او خاوند باید پر هره موضوع په خپله خبرې وکړي او نظر دې ورکړي ، د دې پرځای چې یوه خبره په زړه کې ساتي ، باید چې له پردې او وېرې پرته یې یو بل ته ووایي چې دا ډېره معقوله لار ده او د راروانو سترو ستونزو مخه نیسي که څوک دا وړې وړې خبرې په زړه کې ساتي اخر په عقده بدلېږي ، چې عقده بیا انسان د تباهۍ کنډې ته ورکاږي هغه نجونې چې د هغوی له خوښې پرته ورکول کېږي باید کوښښ وکړي چې د خپل خاوند له عادت سره بلدتیا ومومي جوړجاړی دې ورسره وکړي که داسې نه شي کولای باید د هغه نیمګړتیاوې له وېرې پرته ورته ووایي ، چې هغه ځان اصلاح کړي ، که داسې هم نه شي کولای ، په کارده چې خوابنۍ یا خسر څخه مشوره وغواړي .

صدام حسین مجددا در جلسه محکمه حاضر شد

محاکمه صدام حسین، رییس جمهوری سابق عراق، روز دوشنبه، ۱۳ فبروری، در بغداد از سر گرفته شد در حالیکه متهم پس از غیبت از چند جلسه اخیر مجددا در محکمه حضور یافته است.

رهبر سابق عراق و هفت تن دیگر از متهمان دوسیه کشتار دجیل در اعتراض به آنچه که جانبداری محکمه و نگرش غیرمنصفانه قاضی نسبت به خود خوانده بودند از اواخر ماه گذشته جلسات محکمه را تحریم کرده بودند و صدام حسین پس از حضور مجدد در محکمه علیه رییس جمهوری آمریکا شعار داد و گفت که وی را مجبور کرده اند به تحریم این محاکمه خاتمه دهد.

گروه وکلای مدافع صدام حسین نیز قبلا رئوف عبدالرحمن، رییس جدیدهیات قضات را متهم کرده بودند که بی طرفی را مراعات نمی کند و از حضور در جلسات محاکمه خودداری ورزیده بودند.

با اینهمه، جعفر موسوی، رئیس محکمه، گفته بود که وی آمادگی آن را دارد تا متهمان را مجبور به حضور در محکمه کند هر چند در صورتیکه آنان به اجبار در محکمه حاضر شده باشند، وکلای مدافع می توانند این اقدام را نشانه دیگری از



جانبداری قاضی از رئیس محکمه توصیف کنند.

صدام حسین با لباس سنتی اعراب در جلسه روز دوشنبه محکمه حاضر شد در حالیکه شعار می داد مرگ بر خائن، مرگ بر خائنین، مرگ بر بوش، زنده باد امت.

برزان ابراهیم التکریتی، برادر ناتنی صدام حسین که از جمله متهمان این دوسیه است، هنگام ورود به تالار محکمه با نگهبانان درگیر شد و ظاهرا می کوشید در جلسه حاضر نشود.

در همانحال، خلیل دلیمی، رییس هیات وکلای مدافع صدام حسین، در مصاحبه ای در روز یکشنبه، ۱۲ فبروری، این شایعه را رد کرد که موکل وی در صدد دست زدن به اعتصاب غذاست و افزود که رییس جمهوری سابق عراق در نظر ندارد فعلا دست به اعتصاب غذا بزنند هرچند برخی دیگر از متهمان دوسیه ممکن است چنین کنند.

قرار است در جلسه روز دوشنبه، احمد خصیر، رییس دفتر صدام حسین، و حسن العبیدی، یکی از رییسان سازمان اطلاعات خارجی عراق در حکومت سابق به ادای شهادت بپردازند.

اقای خضیری از سال ۱۹۹۵ تا دو روز قبل از ورود نیروهای آمریکایی به بغداد در ماه مارچ سال ۲۰۰۳ ریاست دفتر صدام حسین را برعهده داشت.

دوسیه جاری به کشتار ۱۴۸ تن از شیعیان شهرک دجیل در سال ۱۹۸۲ ارتباط دارد و صدام حسین و هفت تن دیگر از مقامات رژیم وی متهم هستند که مستقیما در این کشتار دست داشته اند.

در آن سال، پس از سوء قصد نافرجام به جان صدام حسین در شهرک دجیل، جمعی از ساکنان شهر به ظن ارتباط با این اقدام بازداشت شدند و براساس دوسیه کنونی، دستور کشتار آنان توسط شخص صدام حسین صادر شد.

رئیس محکمه معتقد است که مدارک کافی را برای محکومیت صدام حسین در ارتباط با این دوسیه در دست دارد و به همین دلیل، به جای طرح دوسیه های دیگر مربوط به اتهامات رهبر سابق عراق، اتهام کشتار دجیل را مطرح کرده است.

در صورت محکومیت در ارتباط با این دوسیه، ممکن است صدام حسین به اعدام محکوم شود در حالیکه دولت عراق هنوز مجازات مرگ را لغو نکرده است.

محکمه رسیدگی به دوسیه کشتار دجیل در ماه اکتبر سال گذشت کار خود را آغاز کرد اما تا کنون، با بحران های گوناگونی مواجه بوده است.

دو تن از اعضای هیات وکلای مدافع به دست افراد ناشناس ترور شدند و قاضی زرگار امین، که ریاست هیات قضات را بر عهده داشت، چند هفته پیش ظاهرا به دلیل انتقاد دولت از نرمش وی در برابر متهمان از این سمت کناره گرفت.

با استعفای رییس سابق هیات قضات، قاضی رئوف عبدالرحمن به جای وی منصوب شد و ماه گذشته کار خود را آغاز کرد اما وکلای مدافع و تعدادی از متهمان در اعتراض به آنچه که غیر منصفانه خواندن جریان رسیدگی به دوسیه خواندند جلسه محکمه را ترک گفتند.

وکیلان مدافع گفته اند که قاضی عبدالرحمن، که اهل شهرک حلبچه است و محل کشتار کردهای عراق در اثر کاربرد اسلحه شیمیایی توسط اردوی رژیم سابق است، نمی تواند بیطرفی لازم در قضاوت را حفظ کند و محکمه را غیرقانونی خوانده اند.

با خروج وکیلان مدافع از جلسه محکمه، قاضی دستور داد که وکیلان تسخیری متهمان در جلسه حضور یابند و محاکمه را بدون حضور متهمان و هیات مشاوران حقوقی آنان ادامه داده است.

رییس هیات وکلای مدافع گفته است که صدام حسین و سایر متهمان و وکیلان مدافع آنان در آنچه که وی جلسه محکمه غیرقانونی خواند شرکت نخواهند کرد.

در مقابل، رئیس محکمه هشدار داده است که متهمان باید در جلسه روز دوشنبه محکمه حضور یابند و در غیر اینصورت، محکمه می تواند از اختیارات خود برای اجبار آنان به حضور در جلسه استفاده کند.

په بغلان کې...

د یو بل خبر له مخې پولیس ووژل شول
د بغلان ولایت په ویل کیږي چې د
نوي ښار کې د یوه پینښې په تور څلور
بم د ځای پر ځای تنه د پولیسو له
کولو او چاودنې له خوا نیول شوي
املـه د لوې لارې دوه دي.

ایجاد کمیسیون...

نشست امروزی ولسی جرگه روند رای دهی نا خشنود
با بی نظمی و سر و صدا ها بودند علت بی نظمی را
همراه بود شماری از نمایندگان در حالی که از بااهمیت بودن موضوع عنوان میکنند.

باشنده گان ناحیه...

نبود جاده ها و کوچه های مناسب و ازدیاد موتر های باربری درین منطقه یکی از مشکلات باشندگان این محل بشمار میرود مردم این ناحیه از شاروالی کابل وریاست ناحیه شان شکایت دارند و میگویند که در قسمت نظافت هیچ توجه نمیکنند مردم این ناحیه موجودیت سرای ها را خطر بزرگ برای شان میداند.
شاروال کابل میگوید که جای مناسب برای شرکت های باربری در بیرون شهر در غرب و شرق کابل ایجاد نموده است که در آینده نزدیک سرای های به این مناطق انتقال داده خواهندشد.

په کنړ کې...

د سرکانو ولسوال نصر توغندي داسې
الله صافي وویل عیار وو چې ښایي
توغندي د افغانستان د ائتلافي ځواکونو
او پاکستان پر پوله د پر میشت ځای
ناوګی په سیمه کې د وتوغول شي ده دا
استخباراتي هم وویل چې
معلومات تو پر څوک یې پر
اساس لاس ته تړاو نه دی
راوړی دده له قوله نیول شوی.

جابجایی نیروهای...

دفتر مرکزی نیروهای امریکایی خواهد داد
ائتلاف میگوید که کنت نور فد فرمانده
نیروهای دریایی قوت های آیساف در
امریکا در چهار چوب کابل ارقام نیروهای
نیروهای ناتو قبلاً نیز دریای بریتانوی را
در افغاستان فعالیت تائید کرد و گفت این
داشتند که درین نیروها عنقریب در
اواخر جای شان را به ولایت هلمند جابجا
نیروهای تازه نفس میشوند.

مادهجرت په چاپیریال کې د
سهار ورځپاڼې په مسوولیت
برسیره له څو نورو درنو
افغاني خپرونو سره هم پر
لپسې قلمي ملګرتیا درلوده
چې په هغو کې یوه ((وطن))
مجله وه چې میاشتنی چلیده
او مسوول مدیریت یې د
هیواد د نومیالی او درنې
قلموالې خور ((لیلا خرم)) پر
غاړه و. په دې مجله کې پر
نورو لیکنو بر سریه ما د
(شهرناپرسان)) تر سر لیک
لاندې یو ستون درلود چې له
یوې نیمې پرته پر لپسې په هره
ګڼه کې خپریده او که د خدای
کړه وو په کتابي بڼه یې د
راټولو په تکل یم.

بل د ((ارادې)) درنې اونیزې
سره زما قلمي ملګري وه چې
اوس د فاضل او درانه ورو
حاجي سید داود په امتیاز له
کابل نه د ورځپاڼې په بڼه هر
ورځ د لوستونکیو مخې ته
اینې ده. په ((اراده)) کې زما د
کالم (ستون) سرلیک یا زه نه
وای او یا ... زه!!)) و چې د
وخت د وزورو په وړاندې زما

په خیر یوه بې وسه او کمزوری
لیکوال د لیکنې لپاره همدغه
یو مناسب سر لیک و ...
وخت د مست او چار ګام آس
په څیر ګړندې روان دی، اونی
په میاشتو او میاشتې په

کلونوکې ډوبې شوې، د
((ارادې)) او حاجي صاحب
سید داود په خیر د ډیرو د
وطن ارمان پوره شو. زه هم د
ډیرو پخوانیو خوږو شیبو ورځو
په ارمان پسې د وطن او یاد
جبر او ستم په اور تپې او
زخمي کابل ته راغلم. خو تر
اوسه پورې ډیرې خبرې زړې په
زړې دي. سیي ده چې د طالب
د وچ او بې سندرې او بې هنره

دوران ځای اوس سندرې او
هنر!! ډک کړی دی. خو د هغه
تفریط پرځای اوس داسې یو
افراط را خپور دی چې ډیر
ځله د انسان زړه د هماغه
تفریط ارمانجن کړی که هغه

به له خپلو زړو یارانو سره بیا
د قلم په اړیکو سلام کلام
کوم. ما چې ((ارادې)) درنې
ورځپاڼې ته دخپل یوه
همیشنې سر لیک په اړه هر
څومره چورت وواهه تر هماغه
پخواني مې بل شه په ذهن کې
رانغی. بس پر همدې مې بسم
الله ده ((یا زه نه وای او یا ....
زه!!)) زمونږ د اوسنیو
زوروا کانو په وړاندې زما په
څیر عاجز بنده د لیکنې
اوکالم سرلیک تر دې غوره بل
څه کیدای شي. د زور خبرې
خو زورور کولای شي، یا هغه
د چا خبره چې د زورورو تر
سیوري لاندې وي، یو وخت
مې له قاضي محمد امین
وقاد صاحب سره یو مرکه
درلوده هغه مهال د طالبانو
امارت د واک او ځواک پر اووم
آسمان کې و، ما د ملا
صاحبانو په باب څه پوښتنه
تري وکړه ده په ځواب کې راته
کړل چې زه نه ملا یم او نه ولی
خان چې په ملا صاحبانو
دومره تیز ورشم. غرض دا چې
مصلحت یې په پته خوله کې

لیده او دا د عقل غوښتنه هم
ده. زما هم همدغسې ارتیا
او مجبوري ده. وایي چې یو
سړی له خپلې میرمنې څخه
ډیر ویریده. دومره ډیر چې د
هغې په مخ کې یې سون نشر
کولای.

یوه ورځ له دې وضعې ډیر په
تنګ شو په څه خبره په غوسه
شو، احساسات یې را
وپاریدل چیغه یې کړه چې یا
زه نه وای .... په همدغه
حالت کې یې ښځی ته وکتل
چې له سترګو یې له ډیرې
غوسې بخرې الوزي، خپل
احساسات یې هیر شول کرار
یې خپله خبره داسې سره
پیوند او بشپړه کړه چې ((یا
زه !!) او بیا یې هم ددې ویلو
جرئت ونکړای شو چې ((یاته
)) زه او زما په څیر د قلم
خاوندان هم مجبور دي چې د
هیواد د ټولو ناخوالو او بد
مرغیو پره پر خپلو اوږو
واخلي. یا لږ تر لږه بس خپل
مرګ وغواړي او هغه د شاعر
خبره خپلو قاتلانو ته هم دعا
وکړي او بس.

ERADA Daily

زیرنظرهیات تحریرانتشار میباید
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: سهراب دیدار
ارداده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان
سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر۹۵)
تیلفون موبایل: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶

روزنامه آزاد وملی نشریه مرکزنشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: صدیق الله "صادق" و احمد شاه "وحدت"
چاپ: مطبعه مرکزنشراتی افغان

Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Suhrab Didar (Mobil Phone: 070222726)
Composed & designed by : sidiq ullah (sadiq) & Ahmad shah (wahdat)
eradadaily@hotmail.com
قیمت یک شماره ۳ افغانی